# په نیکو عملونو کې بیړه وکړئ - مخکې له دې چې - لکه د تورې شپې د یوې برخې په څېر فتنې مو لاندې کړي

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «په نیکو عملونو کې بیړه وکړئ - مخکې له دې چې - لکه د تورې شپې د یوې برخې په څېر فتنې مو لاندې کړي - چې یو سړی به سهار مهال مؤمن او ماښام کافر وي، او یا به ماښام مهال مؤمن او سهار کافر وي، هغه به خپل دین د دنیا د ګټې په بدل کې پلوري».

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مؤمن هڅوي چې په نېکو کارونو کې بیړه وکړي، مخکې له دې چې ناشوني شي او د فتنو او شبهو په راتګ سره ترې بوخت شي؛ چې هغه یې د نېکو عملونو څخه منع کوي، دا فتنې به د شپې د تیارې په څېر وي؛ چې حق به پکې له باطل سره ګډ شوی وي، د خلکو لپاره به د دوی ترمنځه توپیر ستونزمن وي، نو ځکه یې د شدت له امله انسان بد حواسه کیږي، تر دې چې یو سړی به ماښام مومن وي او بېګا کافر، او بېګا به مؤمن وي او سهار کافر، خپل دین به د دنیا د له منځه تلونکي خوند لپاره پرېږدي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3138